مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویگ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۶/۰۱

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
### (اووه شپیتمه برخه)

## جنرال محمد عمر

په ۱۸۹۸ز کال کې زېږېدلی دئ. د ابو احمد (ابوي) د کورنۍ یوسفزی. زده کړې ئې د حبیبیې په لیسې کې کړې دي. په ۱۹۱۶ز کال کې په مرکزي ځواکونو/ قوای مرکز کې شامل سو. په ۱۹۱۹ز کال کې د ارګ د توپچي ځواک افسر. په ۱۹۲۰ز کال کې کنډک مشر. په ۱۹۲۱ز کال کې په روم کې پوځي اتشه. په ۱۹۲۴ز کال کې د ستردرستیز مرستیال. په ۱۹۳۰ز کال کې تورن جنرال، فرقه مشر. د ۱۹۲۶ز کال د اکتوبر په میاشت کې د افغان پوځي پلاوي په مشرۍ کې شوروي اتحاد ته واستول سو چې د افغان وسله وال ځواک لپاره د توپچي وسله غوره کړي او د شوروي اتحاد پوځي تخنیک زده کړي. په ۱۹۲۸ز کال کې ئې له شوروي او ایتالیا څخه لیدنه وکړه. یو ځل په برلین کې پوځي اتشه وو. په ۱۹۳۰ز کال کې ستردرستیز وګومارل سو. په ۱۹۳۲ز کال کې په ژنوا کې د خلع سلاح په کنفرانس کې ئې ګډون وکړ. د ۱۹۳۳ز کال د دسمبر په میاشت کې ئې له پاریس څخه لیدنه وکړه. د ۱۹۳۴ز کال د جنورۍ په میاشت کې کابل ته راستون سو. د ستردرستیز په توګه ئې خپله دنده بېرته له سره پیل کړه خو د ۱۹۳۴ز کال د مي په میاشت کې یو ځل بیا ژنوا ته لاړ. د ۱۹۳۵ز کال د جون په میاشت کې د جامعهٔ ملل د بې وسلې کولو/ خلع سلاح په کمېټې کې افغان استازی. ویل کېږي چې په ۱۹۳۶ز کال کې بېرته کابل ته راوغوښتل سو. په ۱۹۳۶ز کال کې لا تر اوسه د ستردرستیز په توګه پاتې وو. په ۱۹۴۵ز کال کې هندوستان ته د افغانستان د پوځي پلاوي د مأموریت مشر. په ۱۹۴۶ز کال کې د سلطنتي دارالانشاء مشر. په ۱۹۴۸ز کال کې د شاه محمود په حکومت کې د دفاع وزیر. له ۱۹۴۹ تر ۱۹۵۵ز کال پورې د پاریس سفیر. له ۱۹۵۵ تر ۱۹۵۷ز کال پورې د تهران سفیر. او له ۱۹۵۸ تر ۱۹۶۴ز کال پورې په ډیلي کې د افغانستان سفیر. تقاعد ئې وکړ او د ۱۹۶۴ز کال د مارچ په میاشت کې وفات سو. د ډاکټر اکبر عمر پلار. مورنۍ ژبه ئې دري ده.

## مولوي محمد قاسم

د بدخشان بومي اوسېدونکی (د اوبو او برېښنا د وزیر د خلقي منصور هاشمي خسر). په ۱۹۵۰ز کال کې د عدلیې د وزارت مرستیال وزیر. د ۱۹۵۰ز لسیزې په اوږدو کې د بدخشان په جرم کې وفات سو.

## تورن جنرال محمد رفیع


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د پغمان د سيمي يو پښتون په ۱۹۴۶ز کال کې زېږېدلی دئ. ويل کېږي چې پلار ئې په افغانستان د جيټ جنگي الوتکو لومړنی پيلوټ وو. د شوبلو يا ټانکونو په قول اردو کې يو مسلکي پوځي افسر وو. د افغانستان د خلق ډيموکراټيک گوند غړی. د غوايي له پاڅون وروسته د ټولگټو د وزارت وزير سو. د ۱۹۷۸ز کال د آگست په مياشت کې د خلقي حکومت پر ضد د توطئې په تور له کاره برطرف سو. په شلو کالو حبس محکوم سو خو د ۱۹۷۹ز کال د اکتوبر په مياشت کې حبس ئې د حفيظ الله امين په وسيلې ۱۲ کالو ته راټيټ سو. د ۱۹۷۹ز کال د دسمبر له کودتا وروسته له زندانه آزاد سو او له ۱۹۸۰ تر ۱۹۸۲ز کال پورې د دفاع وزير سو. د مرکزي کمېټې او د انقلابي شورى غړی. د وزيرانو د شورى مرستيال رئيس. په ۱۹۸۱ز کال کې د سياسي بيرو غړی. ځای ئې جنرال عبدالقادر د دفاع د وزير په توگه ونيوۀ. په ۱۹۸۱ز کال کې د نورو زده کړو لپاره شوروي اتحاد ته واستول سو. له ۱۹۸۴ز کال راهيسې د انقلابي شورى مرستيال رئيس.

## جنرال محمد رسول

په ۱۹۱۵ز کال کې زېږېدلی دئ. د نائب سالار محمد غوث زوی. د کابل په حربي ښوونځي کې ئې زده کړې کړې دي. ترکيې ته د نورو زده کړو لپاره واستول سو. په افغان وسله وال ځواک کې شامل سو. له ۱۹۵۳ تر ۱۹۶۳ز کال پورې د داؤود تر مشرى لاندې د استخباراتو رئيس وگومارل سو. متقاعد. د تره کي دواکمنى پر مهال زنداني سو. لا تر اوسه په کابل کې دئ.

## جنرال محمد سعيد

په ۱۹۱۵ز کال کې په گلبهار کې زېږېدلی دئ. خپلې لومړنۍ زده کړې ئې بشپړې کړې او په ۱۹۲۷ز کال کې ترکيې ته لاړ. په ۱۹۳۶ز کال کې له ليسي څخه فارغ سو. له ۱۹۳۶ تر ۱۹۴۰ز کال پورې د ترکيې په پوځي پوهنتون او پوځي اکاډيمى کې وو. په ۱۹۴۰ز کال کې افغانستان ته راستون سو. له ۱۹۴۰ تر ۱۹۵۳ز کال پورې په وسله وال ځواک او ددفاع په وزارت کې ئې خدمت وکړ. له ۱۹۵۳ تر ۱۹۶۳ز کال پورې په ننگرهار، پکتيا، هرات او مزار شريف کې د وسله والو ځواکونو بولندوی. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۷۳ز کال پورې په کندهار کې د ځواکونو بولندوی. په ۱۹۷۳ز کال کې په ترکيې کې افغان سفير. وادۀ ئې کړی دئ؛ درې لونې او دوه زامن لري.

## محمد سرور

د مشروطه غوښتونکي غورځنگ يو مشر. په ۱۹۰۹ز کال کې اعدام سو.

## محمد شفيع

په ۱۹۴۷ز کال کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۶۶ز کال کې د کابل د ښوونکو د روزني له تخنيکي انستيتيوت څخه فارغ سو. په ۱۹۷۲ز کال کې په همدې انستيتيوت کې ښوونکی. په ۱۹۷۲ز کال کې د جرمني فدرالي جمهوريت ته د نورو زده کړو لپاره لاړ او تر ۱۹۷۹ز کال پورې ئې هلته روزنه وليدله. په ۱۹۶۵ز کال کې د افغانستان خلق ډيموکراټيک گوند سره يو ځای سو. په ۱۹۶۹ز کال کې د کابل د ناحيې گوندي غړی. په ۱۹۷۰ز کال کې د سياسي فعاليتونو له کبله زنداني سو. کله چې په اروپا کې وو د.ا.خ.د.گ. گوندي کارونو ته ئې دوام ورکړ. د ۱۹۷۸ز کال د دسمبر ړ مرغومي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

له ۶ راهیسي د.ا.خ.د.ګ. د نړۍ والو اړیکو د کمېټي دغړي او وروسته ددې کمېټي د مرستیال رئیس په توګه ئې کار وکړ. په ۱۹۸۱ز کال کې د جرمني په ډیموکراټیک جمهوریت کې سفیر وګومارل سو.

## محمد شعیب

د احمد جان زوی. له ۱۹۴۸ تر ۱۹۵۲ز کال پورې ئې د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي ولوست. د عدلیې په وزارت کې د څارنوال اسیستانت. د قانوني تعقیب مدیر او ۱۹۷۵ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د عدلیې مرستیال وزیر.

## ډاکټر محمد صدیق

د عبدالرحمن زوی. له ۱۹۵۹ تر ۱۹۶۱ز کال پورې ئې د کولمبیا په پوهنتون کې د ښوونې او روزنې په ډګر کې تحصیل وکړ اوخپله دکتورا ئې تر لاسه کړه. د کندز والي. د ښوونې او روزنې د پوهنځي رئیس او وروسته د کابل پوهنتون مرستیال رئیس. له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د معارف مرستیال وزیر.

## محمد یونس

د کابل د شوربازار د شیرني جوړونکي حاجي محمد هاشم زوی په ۱۹۰۴ز کال کې زېږېدلی دئ. په کابل کې له لومړنیو زده کړو وروسته یو له هغو لومړیو زده کوونکو څخه وو چې په ۱۹۲۱ز کال کې فرانسې ته د زده کړو لپاره واستول سو. د میشیلې [1] په لیسې کې ئې زده وکړې او کیمیا ئې د السس[2] په مولوز[3] کې ولوستله. په ۱۹۳۲ز کال کې افغانستان ته راستون سو. د استقلال په لیسې کې د کیمیا ښوونکی. د معارف د وزارت د تدریساتو د څانګې غړی او وروسته د تدریساتو د څانګې مرستیال رئیس. په ۱۹۴۵ز کال کې د ساینس د پوهنځي مرستیال رئیس. له ۱۹۴۶ تر ۱۹۵۰ز کال پورې د هرات د معارف رئیس. «اصولِ یونس» [4] ئې چاپ کړ. د ډاکټر روان فرهادي خسر. په ۱۹۸۱ز کال کې په کابل کې وفات سو. مورنۍ ژبه ئې دري وه.

## محمد یونس

د سلطان محمد طلایي لمسی د محمد علي او د شاغاسي شیر دل د لور تاجوان/ تاجور سلطانې [5] زوی په ۱۹۰۵ز کال کې زېږېدلی دئ. له ۱۹۲۶ تر ۱۹۲۸ز کال پورې د دولتي ودانیو د ودانولو مسؤول. له ۱۹۴۷ تر ۱۹۵۳ز کال پورې د کندهار والي. د اعلیحضرت محمد ظاهر مصاحب په توګه ئې خدمت کړی او په باندنیو سفرونو کې ورسره ملګری وو. د اعتماد الدوله عبدالقدوس له لور حبیبې سره ئې واده کړی دئ. دی په ۱۹۷۷ز کال کې په کابل کې وفات سو او مېرمن ئې په ۱۹۸۳ز کال کې په جرمني کې وفات سوه.

## ډاکټر محمد یوسف

1 - Michelet
2 - Alsace
3 - Mulhouse
4 -Usul-i-Yunus
5 - Tajwan Sultana


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د محمد حسن زوی په ۱۹۱۷ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د نجات په ښوونځي، ميونيخ او د «ګوتينګن»[6] په پوهنتون کې ئې تحصيلات کړي دي. خپله دکتورا ئې په فزيک کې واخيسته. د ساينس د پوهنځي مدرس او پوهاند او وروسته په ۱۹۴۴ز کال کې ددې پوهنځي رئيس. په ۱۹۴۸ز کال کې د مسلکي تحصيلاتو رئيس. په ۱۹۴۹ز کال کې د معارف مرستيال وزير. په ۱۹۵۲ز کال کې په ميونيخ کې د افغان – اروپا د فرهنګي دفتر رئيس. په ۱۹۵۳او ۱۹۶۳ز کال کې د کانونو او صنايعو وزير. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۵ز کال پورې صدراعظم. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۷۳ز کال پورې په بن کې افغان سفير. په ۱۹۷۳ز کال کې پخواني پادشاه محمد ظاهر بيرته کابل ته راوغوښت او په مسکو کې ئې د سفير کې مقرر کړ. د جولای په مياشت کې بېرته راوغوښتل سو او متقاعد سو. مډالونه : د معارف لومړی درجه مډال او سردار اعلی. مورنی ژبه ئې دري ده. *

## نور بيا

### محمد يوسف

د غوايي له پاڅون وروسته د کورنيو چارو د وزارت د...

[قدرمنو لوستونکو! د ښاعلي رحمت آريا د آرشيف: لينک]

6 -Goettingen


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولئ